
# پیغام



محمد موسیٰ شفیق

سریزه : الحاج ننګیال

Ketabton.com

# پیغام

وینا وال : محمّد موسیٰ شفیق

سریزه : الحاج ننګیالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


دکتاب نوم : پیغام

ویناوال : محمدموسی شفیق

سریزه : الحاج ننگیال

خطاط : نورالدین هنریار

خپروونکی : فرهنگ جهاد

نیټه : د ۱۳٦۷ لمریز کال د ثور میاشت



د فرهنگ جهاد پستی او بانکی پته

P. o Box No. : 1107

G. P. O

پشاور پاکستان

حساب بانکی : حبیب بانک 3014

میوه مندوی برانچ

پشاور پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# پیغام او شفیق

## ۱- پیغام

پیغام د شهید شفیق «دده په قول» د لالهانده او وارخطا زلمیتوب دوخت یو رنګین سوغات دی او ددوی د ژوند دیوې تیا کلی دورې تأثرات او خاطرې.

پیغام د مرحوم شفیق د دارالعلوم د زده کړې د دورې ادبي پانګه ده او د هغه مهال سرها یه چې شفیق د مصر او امریکې د لوړو تحصیلاتو د وسته د سترو دولتي پوستونو له شا د هغې ارمان کړی او ویلي دي: «... که زه ددې او س نه یدې کم او کیف خبر وای ما به له هرېو کال ند په هماغه تنګ، تریاو تپه تیاره دارالعلوم کې د ده او دری کلونه جوړ کړای وای».

خو مرحوم شفیق د نن وارخطا او لالهانده زلمي دیوه شاعر، ادیب او لیکوال په صفت دومره نه پیژني - د هغه وزارت او صدارت او په مجموع کې سیاست د دوی هنر او فن تر خپل سیوری لاندې داسې پټ کړ چې نن د مرحوم شفیق د پاخه فن نه ډېر لږ کسان خبر تیا لري په افغانستان کې چې هر فنان، لیکوال او ادیب سترو دولتي پوستونو او لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجتماعي او اداري موقف ته رسېدلی دی هغوی بیا خپل فن او هنر ته داسې دمه ورکړې چې بیا یې کله څرګند ځلکې آثار لولی او حال یې ګوري. داکومان هم نشی کولی چې دا دی د پرون هغه ستر ګور لیکوال او وینا وال وی چې دی یې اثر مطالعه کوي.

نن هم زموږ د جهاد مشران چې ځوا لیکوال هم ؤ وینا وال هم او - صحافیان هم هغه د پرون لیکوال نه بریښي کوم چې په شرعیات - عرفان - قضا ادب - کهیځ - پیام حق - وړانګه او . . . خپرونو کې لیده کېدل.

دلته د مرحوم ماستر فضل کریم د «لیکوال مرشو» لیکنه سری ته دکا نې کرسنه وبریښي، او زه خیله چې مرحوم شفیق څومره دیو شاعر، لیکوال او ادیب په صفت پېژنم دومره یې د وزیر او صدر اعظم په نامه نه پېژنم، ځکه د ده لیکوالی او په مجموع کې فن ابدي دی او تلپاتې. نن هم د شفیق فن ژوندی دی او سبا هم د هغه وزارت او صدارت نور نه لیده کېږي خو «پیغام» او «عبقریان» به یې تر قیامته ژوندي وي او همدغه ورد دوی نور لیکنې او شعرونه هم.

د شفیق پیغام چې څومره د پرون ځوانانو ته د بیدارۍ د جرس حیثیت درلود نن هم هماغه تأثیر، ولوله او جذبه لري او د نن زلمي هم ورته اړ دی او هم وړ. دغه پیغام د څه مشخصو او موسمي حالاتو او شرایطو پیغام نه دی. دا پیغام د پرون له پاره هم ؤ د نن هم دی او د سبا هم دغه پیغام تېرو ختنو ستر ګوته دروي او نړاوه یادونه راسپړي له نن هم خبري کوي او د راتلونکی بنه هم ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شفیق پخپله لیکي:

«زما نوم محمد موسی شفیق دی پلار مې مولوي محمدابراهیم کاموي نومېږي. زموږ کورنۍ د ننګرهار ولایت دکامې په سیمه کې اوسېږي او یوا وږد علمي تاریخ لري.

زه پخپله دکابل په ښارکې چېرته چې زما پلار ډېره موده کارکاوه د ۱۳۰۸ هـ ش کال دجوزا په پنځمه زیږېدلی یم.

زما رسمي تحصیلات په ابتدايي مرحله کې د کامې او کابل په مکتبونوکې بشپړ شول بیا وروسته د پلار په اراده او امر د ننګرهار ولایت دنجم المدارس په مدرسه کې شامل شوم. دوه کاله وروسته د کابل عربي دارالعلوم مدرسې ته راغلم چېرته مې چې دولسم صنف خلاص کړاو مولوي ترې راووتلم، دمدرسې وروسته په شاهي دارالتحریرکې مقرر شوم او بیا وروسته د پوهنې وزارت لخوا مصرته د تحصیل لپاره ولېږل شوم او دهغه ځای نه د تحصیل دختم نه وروسته امریکې ته ولاړم.

زما د تحصیل درجه داده؛

دبکلوریا معادله شهادتنامه دکابل له عربي دارالعلوم څخه، دلیسانس

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهادتنامه له مصر څخه ، په عدلي چارو کې د ماسترۍ شهادتنامه له مصر څخه ، په مقایسوي حقوقو کې د ماسترۍ شهادتنامه له امریکې څخه.

د مورژبه مې پارسي او د پلار مې پښتو ده او ما ورسره عربي او انګلیسي هم لوستلې دي

زما په تربیه کې لومړی مؤثر شخص زما پلار دی دهغه د پر و مثبتو افکارو ما کې تاثیر کړیدی او ځینې هغه نظریات یې هم په ما تحمیل شوي چې د خپلې زمانې د پاره هغه ته مفید ښکاره کېدل مګر اوس دیو منفي – جریان شکل لري. زما پلار د هغه او بد او حساس ماموریت له کبله چې د افغانستان په اوسنی او پخوانی دوروکې یې سرته رسولی د افغانستان په تاریخ کې دیو معین ذ هنیت نمایندګي کوي ، زه په خپله په خپل ځان کې د هغه د مثبتو او کمزورو نظریاتو تاثیرات ګورم ، د هغه نه وروسته په اجتماعي ژوند کې د پښتو ځینو نومیالیو ادیبانو زما په تربیه کې برخه اخیستی ده او په دارالعلوم کې د مولانا غلام نبي کاموي اثر زما په فکر باندې د – مخصوصي یادونې وړ دی .

په مصر کې مې د ښاغلی « داوي» نه هم ډېره مستقیمه استفا ده وکړه او د قاهرې ثقافتي محیط درسمي تحصیل نه علاوه زما د فکر په وسعت باندې زیات تأثیر وکړ ، دامریکې سفراو اقامت د غربي ژوند انه د طرز سره آشنا کړم او بالاخره د دې مختلفو مؤثراتو د تفاعل په نتیجه کې ماسره هم یو شمیر ثابت نظریات د ژوند انه په باب کې پیدا شول چې زه ورته خپله لاره وایم او ډېر دوستان لرم چې موافقه ورسره لري .

زما فعالیت د حقوقو او قوانینو په ساحه کې دی وظیفه مې دعدلیې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وزارت کې د قوانینو د لوی مدیریت اداره او د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې د خاص بین المللی حقوقو او د معاصرو حقوقو تدریس دی.

جرایدو او مجلاتو ته مقالې هم لیکم او کله کله مې ښځوا شعر هم وایه او اوس هم د شعر شیطان کله کله راپاندې پېښنه کوي...*

شفیق لیکلي: جرایدو او مجلاتو ته هم مقالې لیکم او کله کله مې ښخواهم شعر وایه او اوس هم راپاندې کله کله د شعر شیطان پېښنه کوي. خوزه داویم چې مرحوم شفیق دري او پښتو ادب ته د روند، مثالي او بنسټیز کارکړې دوی دلنډې کیسې لیکلو لارې په غښتنه کړې او د نویو لیکوالو له پاره یې ځای په ځای د خپل فکر او فن ډېرې ځلولې دی دوی معیاري افسانې ولیکلې د فن په لحاظ په ټول پوره او د چاپېریال د مسلطو شرایطو او بېنې انځورګری او د ټولنې د نیمګړتیاو د سمون په لار کې د زده کړې ور.

هغه وخت چې افسانې لا د هېواد په ځېرونو کې غزونې نه وی کړې. په دې ډول شفیق په پښتو ادب کې د لنډې کیسې او انقلابي شعر د کاروان جرس وغږاوه او په پوره ډاډ سره وېلای شو چې که مرحوم شفیق سیاست او اداري بوختیاو نو نه وی مصروف کړی نن به د دوی فن د پښتو او دري ادب داوج موج او معراج پوړی د رولی وای او ادبیاتو ته به یې د خپل لوړ استعداد او نبوغ له مخې داسې هراړخیز کارکړی وُ چې د تخلیق او تحقیق په دواړو ډګرونو کې به یې په سیمه کې بر او لوړ مقام ګټلی وای.

---

* - اوسني لیکوال د ۱۳۴۱ لمریز چاپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښايي د شفيق او څو نورو کوټو په شمېر ليکوالو او اديبانو ځانګړنه وي چې په دواړو ژبو دري او پښتو کې يې پاخه معياري او کره ادبي او هنري آثار رامنځ ته کړي دي داسې چې لوستونکي دا نشي احساسولی چې دليکوال مورنۍ ژبه کومه ده .

د مرحوم شفيق دري او پښتو افسانې چې څو ګڼ لوی نودا توپير ورته ګران شي څو پر يکړه وکړي چې پښتو ليکنه يې پخه وګڼي او که دري.

دا د شفيق د هغه مهال ادبي فن پارې وې چې ده لا د ځوانۍ او تحصيل شېبې تېرولې او سرې دا اتکل کولای شي چې وروسته به د دوی فن څومره پرمختګ او ارتقايي منزل وهلی وي. د دوی د ځوانۍ ليکنې له يوه ځانګړې کره او استادانه انداز او اسلوب څخه برخمنې دي .چې د دوی نبوغ ،استعداد او ذوق په ښه توګه ترې څرګندېدای شي.

پدې ډول ويلای شو چې که څه هم شفيق د ځينو وجوهاتو له مخې د کميت په لحاظ لږ ادبي آثار پرې اېښي خو د کيفيت په لحاظ د يوه استادانه ، معياري او د ټولو شرايطو د غوښتنې سره برابر موادا و د الهام او پيغام از اکلي يې ډېرې موندلی شي.

. ويل کېږي چې شفيق د داود خان له کودتا وروسته په زندان کې هم ارزښتناکه ليکنې او پلټنې کړې او د قرآن کريم تفسير يې کښلی دی چې که له منځه نه وي تللی دا به زموږ د اسلامي فرهنګ د بډاينې ډېره لويه پانګه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شفيق د خپل فن په هنداره کې

شفيق انقلابي شاعر دی - د هغه شاعري او په مجموع کې فن د پرګنو له هيلو او ارمانو سره تړلې ده او د هغه د فن ځښتني او مسائله د تړلني او چاپېريال وضعه او مسلط شرايط وو.

شفيق د يره دراك او ستر ګور ويناوال په توګه د خپل ولس ستونزې او دردونه د شعر په ژبه بيانول او د فن او هنر په ګوتو يې د هغو سمون او علاج انځوراوه، د هغه فکر، وروُ او خيال لوړ - نظريې ځيرو او ژور.

هغه د خپلو خلکو پر دردونو دردېده - د ولس درد د هغه خپل درد ؤ د قام مصيبت د هغه مصيبت ؤ او د وګړو پرېشاني او بد حالي د هغه خپله پرېشاني وه ګويا هغه د خپل وجود په زره زره د غريب ، مظلوم ، وږی بې کوره او کرېدلي هره سا نده - هر فرياد - هر درد او هر کړاو داسې محسوساوه لکه چې پده خپله تېرېږي او دې ځان په پوره معنا د هغه په ځای ګڼي دا زما خبره نده د ده شعرونه دغه ټکی څرګندوي او د ده فن د دې خبرې شاهدي ورکوي او -

ړاسپړي يې .

هغه يواځې ځانته سوکالي نه غوښته هغه دقام او ولس د - ښېګړې و مين اوليواله ؤ پدغه مينه کې هغه د پتنګ د سربازی د جذبې غوښتونکی ؤ او ديوه بې خوده ليوني د سرشاره استغنا هيله من ، چې زخمي زړه يې له نورو پرهر ژلوسره په وينو کې نوږم ورنګېږي :

استغنا ديوه بې خوده ديوانه را
پاکيزه يوه د مينې کاشانه را
زخمي زړه مې لا په نوررو وينو رنګ کړه
سربازی ديوه سرتېري پروا نه را

شفيق پدې ګروهمن ؤ چې د خپل ولس وېرجنه وضعه يې د مبارزې اويوه مثبت اوښتون له لارې بدلېدلای شي ځکه خود حق په لارکې هغه د منصور د سربازۍ د ولولو او همت غوښتنه کوي :

درد او غم د محبت کې خوند سرور را
دېره ځای په ارمانو ډکوه طور را
چې د حق له پاره دار په لیمه ښکل کړم
هومره جوش د سربازۍ لکه منصور را

شفيق چې ګورې د هيواد ځوان توکم د غربي ماديت د تورې بلا کومې ته ننوځي کېږي او ننی تش په نوم تمدن څه ورد معنا او روحانيت په کور تالان کړه کړې اود ژوند فطري بڼه يې بدله کړېده نو له همدې ځايه هغه د ترقی په لور په معنوی اساس دېرن غوښتنه



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي هو! د منزل په لور د باد په څیر د چټک یون:

ماديت د غرب لا هو کړو تباه کېږو
زموږ روح ته یو غیبي غوندي امداد را
معنوي اساس مو ټینګ په خپل قدرت کړه
د منزل په لوري بیا منډې د باد را

شفیق - زړه یواځې د توحید ځای بولي - نورې مینې او غوښتنې له زړه څخه لېرې کوي او د زړه حرم له هر ډول بوتانو پاک او سپیځلی غواړي:

آئینه چې د جهان د ننداره ښي
دا یې موږ ته درد منده زړه مې جام د جم را
د توحید لمبې مې سرې لره سینه کې
له بوتانو نه خالي د زړه حرم را

شفیق د شلم قرن د جاهلیت او وحشت په تیارو کې د حق ځلنده مشال په رڼا کې د پرمختګ د منزل لار تیاکي که نه نو بیا به تولنه یوه لار ورکې ټولنه وي له معنا او روحانیت څخه لرې او د مادیت په زولنو کې ښکېل:

په ځیګر درد او مینې سوې داغ را
سینه ټوله د معنی د ګلو باغ را
دې تیاره سفر کې لار رانه ورکېږي
ته په لاس د حقیقت ښکلی څراغ را

له شفیق سره د خپل هېواد د پرمختګ او ترقي تلوسه وه او یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږېده چې خنګه يې هېواد د طبيعي خداى ورکړي ورشتمنيو سره
سره بېرته پاته دى ځکه خوهغه د دې ارمان چې هېواد يې
خوږمن چې تر ډېرې دبره تګ او ترقي منزل ته ورسېږي له
همدې امله هغه په شپه کې د کال له منزل وهلو پېړۍ بېله لاره ليده:

دي تورتم کې لکه لمر هومره مشال را
ديرو ځکي لاروو پورې وصال را
قافلي نه وروسته کېږو ساعت کم دى
په شپه کې موږ نه توان د تلو د کال را

موږ ځکې وويل چې شفيق چې هرڅه له خدايه غوښتل د ولس
او هېواد له پاره يې غوښتل او خپل ټول استعداد او صلاحيتونه
يې د غه هدف ته وقف کړي و وحتى خپل ذوق او تمنا هم:

ماله زړه زخمي زخمي په درد دوا را
آزادى او حريت پدې دنيا را
چې دقام په دردمې وخوري هغه خوښ کړي
هسې شانې شکلي ذوق وتمنا را

بل ځاى لدې هم پل ځکې ېږدي او وايي:

سينه پاکه له وهمونو له وسواس را
سنه محيط کې مې آواز له انعکاس را
چې خدمت يې قوت ورکړي قام ته بر ته
هغه مت هغه بازو او هغه لاس را

شفيق چې پر خپل هېواد مسلط نامطلوب شرايط ګوري چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو منفي سیاستوالو لوري څنګه د ده وطن د بلا خولې او د بربادۍ کومي ته نژدې کړي نولکه هر وطن دوست شاعر دی هم وځوریږي خوله د غه ډول ګواښونو سره د مقابلې له پاره د ولس د متولو پرګنو د ټینګ وحدت او همراړخیز تحرک غږ پورته کوي چې د راروان خطرناک سیلاب مخه ونیسي د هغه سره سیلاب مخه چې په رښتیا هم تباکوونکی او ورانوونکی.

که داپوچې هم پدې شانې اوسیږو
نو په مړو او معدومو به شمیرېږو
راځئ هله چې لاسونه سره ورکړو
ګني دا سیلاب چې راغی تباه کیږو

هغه له وطن سره د مینې او د خپل ضمیر غږ او د وجدان او احساس د څرګوڅه دا ډول ترجماني کوي:

مونږ په ایشیاکي یو مسعود افغانستان غواړو
مونږ حکومت او حاکمیت د پاک قران غواړو
اباد په سوله امنیت با ندې جهان غواړو

د قام خادم چې وي هغه خلکو امام دی زمونږ
لکه نسیم د باغ ګلونو ته پیغام دی زمونږ

شفیق د خپلې لارې او مرام له پاره د فعالیت او مبارزې ستونزې لیدلی او پدې لارکې یې کړاوونه او ناخوالې یې حتمي ګڼلی خو لدې سره سره چې حوادث یې دارادې لوري نشي بدلولی او ستونزې او خطرونه یې له هدف څخه نشي ګرځولی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړه به نشي اراده مې حـاد شوکې
راسره چې عالي دومره روحيات دی

شاعران جذباتي محلوق دي شفيق ته هم چې کله درد ورشي او د ظالم لاسونه هاغسې د مظلوم په وهلو تکولو شـــنه وکوري نو د افـرياد يې له خولې ووځي ؛

دا تومېي مې چې اغزي د زړه په سترګو
کوم بې رحمه کوم ظالم او کوم صياد دی
چې آسمان په ظالمانو نه رالـوېږي
معلومېږي بې تاثيره مې فـرياد دی.

شفيق د خپل اسلامي او ملي غرور په تکيه پر خپلو بد خواهانو او د ښمنانو يې دروند او دادمن غږ ځـکوي، خپل تېر برم ورته يادوي او په شومو نيتونو يې پورې يې خاندي او ټوکې ځـکوي :

دبستان کې د ايشيا چې زه استاد وم
تا لوستله هغه وخت کې سيپاره
مخ دې تور شه اوس زما سره دعوه کړې
ته او خدای نو په هدغه قــواره

شفيق متعهد او ژمن شاعر و، هغه شعر او ادب د خوښتې خيالي او رنګينو تصوراتو لفاظي نه ګڼله او نه د مداحې وسيله - هغه د شعر او ادب له پاره د تعهد او مسلک پر ضرورت قائل و - هغه ادب د ژوند، هدف او مرام له پاره پر اصل ګرو همن و. هغه بې تعهده او بې مسلکه شاعر ور که غواړي او پر هغه اور لګوي ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دپه ژوندون پوري کره چې نوي آزادي پکې
ورکه شاعري شه چې مسلك ورسره نه وي

هو څکې مو وویل چې مرن شفیق دیوه شاعراو ادیب په توګه پېژنو نه د وزیر ـ سفیر او صدراعظم په نوم د شعرله مخې یې پېژنو او دفن په هنداره کې ورته ګورو. د هغه شعراو فن په هنداره کې چې د دوی د ژوند دیوې تاکلې دورې ادبي پانګه او تاثرات ګڼلی شي او لکه څنګه چې څرګنده کړې شوه د هغه فن د ژوند له پاره دی د پرګنو د زړونو غږ او د ضمیر آواز دی او د تولنې د مسلطو شرایطو منعکس کوونکی او د وخت نماینده ـ چې د شاعر د هغه مینې او تلوسې ازانګه بېرته څرګندېدای شي چې هغه یې د خپلې ټولنې د نیمګړتیا وو د سمون او پرمختګ او سوکالۍ له پاره لري. هغه خپل فن د مقصدیت په زانګو او د اجتماع په غېږ کې رالوی کړی د هغه د شعر هر بیت له ظلم څخه د نفرت او د خائن په مقابل کې د کینې داور بخري ښندي او د مظلوم او بېوزلې په زخمونو پټۍ لګوي ـ ځکه خود هغه فن ابدي دی او تلپاتې د پرون هم د نن هم او د سبا هم. بې ځایه به نوي چې د هېواد د نامتو وینا وال قدرمن غمخور صیب د غه شعر را غبرګ کړم چې محمد موسی شفیق یې د افغاني کوه طور موسی ګڼلی:

ته شفیق یې ته رفیق یې ته موسی زموږ د طور یې
نوم دې ځکه د زړه سره خورد زړونو په جهان شو *

---

*ـ وګ لویه هنګامه د عبدالله غمخور اثر ۱۵۳ ـ ۱۵۴ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی صباح الدین کشککی په «دهٔ قانون اساسی» کې لیکي:
ما شفیق له هغه وخته پېژانده کله چې د ۱۹۵۰ کال د لسیزې په وروستیو کې د واړو خپلې زده کړې په بهر کې سرته رسولې وې او هېواد ته راستانه شوی وو. موږ د خپل هېواد د پرمختګ او سوکالۍ د پاره ګډې نظرې درلودې. او د واړو د هغو اصلاحاتو پلي کول چې بیا وروسته یې د ډېره برخه په اساسي قانون کې هم شامله کړې شوه د هېواد د ترقۍ له پاره معقوله او سمه لار ګڼله.

کله چې شفیق د ۱۹۷۲ کال د نومبر د میاشتې په لومړیو کې له ما غوښتنه وکړه چې دده په حکومت کې د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په توګه برخه واخلم ما د هغه دا غوښتنه په دوو شرطونو ومنله - په حکومتي چارو کې د سلطنتي کورنۍ د غړو د لاس وهنو مخه نیول او د حکومت سره پیوسته د یوه ټیم رامنځته کېدل چې د هغه په څنګ کې ما ته صلاحیت راکړې شي چې د هېواد په مطبوعاتو کې بنیادي بدلونو نه رامنځته کړم.

د سلطنتي کورنۍ د غړو په منځ کې د شفیق پر خلاف احساس دومره تنګ او تېز شوی وو چې ما له هغه سره په صراحت کې یو شپه په خبرو کې دا موضوع رامنځته کړه هغه وویل چې زه هم له ستونزې سره خبر یم. د سلطنتي کورنۍ غړي په هېواد کې د رامنځته شوو پېښو نه خواشیني شوي وو او سوهېدل چې په هره بیه به د قدرت واګې د دوی له لاسونو وځي. هغوی پخپله مخه کې د کلکې ارادې خاوند یو صدراعظم لیده چې په حکومتي چارو کې د سلطنتي کورنۍ د غړو د لاس وهنې د مخنیوي په کدون یې په اساسي قانون کې د شاملو موادو د پلي کولو

پخه اراده کړې وه.

د سلطنتي کورنۍ ځینې غړي او کیڼ لاسي له دغه بدلون څخه په ویره کې شول. هغوی پخپل ځنګ کې دیرې نوې دورې او پرېکنده او پاخه هوډ مشرتابه رامنځته کېدل لیدل چې په راتلونکې کې یې د قدرت د لاسته راوړلو د پاره د هغوی پخوانۍ هیلې له منځه وړلې.

شفیق د سیاسي ګوندونو، د ولایتونو د جرګو او ښاروالیو د قانون په پلي کولو کې چې هغوی ته بنیادي ضرورت محسوسېده د پاد شاه منظوري ترلاسه کړه. له دې پرته د هغه حکومت په پام کې لرله چې د مظاهرو په ګډون د عامو غونډو د تنظیم قانون هم پلي کړي.

د مطبوعاتو قانون چې په ۱۹۶۵ کال کې د محمد یوسف د انتقالي حکومت په دوره کې نافذ شوی و وهم تربیاکتنې لاندې ونیول شو. پرازې هغه جریده د خپرېدو حق درلود چې په یقیني، بشپړه او فعاله توګه یې د اساسي قانون ارزښتونه د هغه د هدف او متن په نظر کې نیولو سره په پام کې نیول.

د ملکي مامورینو قانون چې د هغه تصویب د ژبې پر مسئله - ځنډېدلی و تصویب شو او په هغه پورې اړوند اختلافونه په اریانونکې ډول له منځه یوړل شول.

د دې د پاره چې د غیر حکومتي مطبوعاتو سره یې مرسته کړې وي د هغو ژمنو پربنا چې د حکومت په کړنلاره کې یې ځای نیولی و اعلان کړه چې د حکومتي اعلانونو موسسه به د او نیزو جریدو په سلو کې د یرش او د ورځپاڼو په سلو کې شل چاپي لګښتونه د دولتي اعلانونو له لارې ورکوي. د دې ترڅنګ لیکلی صدراعظم شفیق و توانېده چې د



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزادو مطبوعاتو سره یو دول بنې اړیکې رامنځته کړي.

د شفیق په دوره کې له دیر افغانستان د خپلو خپرونو په لړکې پنځه وخته آذان پیل کړچې دهغې وروسته به دهیواد له نامتو عالمانو نه یو تن د اسلام د سپیڅلي دین دارزښتونو په رڼا کې د هیواد پرمختګ او سوکالۍ د پاره دعا کوله.

د شفیق په حکم د شهر غلغله رستوران چې د حاجي یعقوب جامع جومات ته نژدې و او د هغه نه د عیاشۍ او فحاشۍ دیوې اډې په توګه کتل کېده او چپتیده او هلته د دولت مخورو تګ راتګ کاوه بند کړ.

همدغه راز د مرستون تیاتر (مندوی صحنه) چې هغه هم د فحاشۍ د یوه مرکز بڼه غوره کړې وه وتړل شو.

همدارنګه د شفیق حکومت د بهرنیو هیوادو د ځینو سفارتونو او یو شمیر افغانانو د مخالفتونو سره سره په کابل ښار کې د یوې کلیسا د ورانولو امر صادر کړ. دغه کلیسا د دارالامان د سړک په اوږدو کې د روسیې د سفارت تر څنګ په قاچاقي ډول جوړه شوې وه.

په کورنۍ او بهرنۍ سیاست کې د شفیق نوښتونو په حقیقت کې د ده د حکومت او رژیم د وار ورد له منځه تللو زمینه برابره کړه. پدې برخه کې د ده تر ټولو مهم کار د ایران سره د هلمند رود د اوبو د تړون لاسلیکول و. ده دغه تړون په هیواد کې د ننه او په غیر مستقیم ډول د روس لخوا د سختو مخالفتونو سره سره لاسلیک کړ.

شفیق له هغو لومړنیو کسانو نه و وچې د ثور د بدمرغي کودتا نه پس سمدستي ونیول شو. هغه یې د نورو ځوانیو لوړ رتبه بندیانو سره د ملي دفاع د وزارت د ودانۍ په ترڅنګ کې لاندې سمڅو کې تقریباً یو او نیم...

ساتلی وو. د هغې میاشتې په ۲۳ یا ۲۴ نېټه یې د شپې لسو بجو په شاوخوا کې د یو شمېر نورو بندیانو سره دوه ورځې نه وایستل. خلیل الله چې بیا وروسته د کارمل د رژیم کې د جنرالۍ رتبې ته ورسېد او د دفاع وزارت د مرستیال څوکۍ یې هم ترلاسه کړه کله چې د خلقیانو په وخت کې د پرچم د ډلې د نورو لوړو غړو په څېر د خلقیانو لخوا بندي شوی و، په جېل کې یې د نورو بندیانو په وړاندې اعتراف کړی و چې ده شفیق د کابل په هوایي ډګر کې په تروما نجه په سر وویشت.

د اساسي قانون په عملي کولو او له محبسیانو، ګروا و شکیلا ګکرو څخه خلاصون په لاره کې د شفیق لیرې لید او ستر همت تر تله پاتې وي شفیق په دې عقیده و چې افغانستان د خپل (۳۱۶۰۰۰) مربع کیلومتر مساحت او تقریباً ۱۵ ملیونو نفوس په سلو کې د ۲،۵ کلنۍ زیاتوالي په پام کې نیولو سره کولی شي چې دودې او مدني آزادیو په برخه یو مثالي هیواد وګرځي. هغه عقیده درلوده چې په افغانستان کې به بېلا بېل قومونه او نژادونه د یوه داسې واحد ملت د منځته راوړلو مخه و نه نیسي چې په ګډه سره د خپل پرمختګ د پاره کار وکړي. هغه د خپل څرمیاشتنۍ صدارت په موده کې په ډاګه کړه چې انسان کولی شي د یوې ناانډوله شورا سره په بریالي توګه کار وکړي. هغه او د کابینې غړو به یې پرله پسې څو ساعتونه په صبر او ټینګار سره کار کاوه هغه هڅه کوله چې د خلکو په منځ کې د ملي پېژندګلوۍ احساس منځته راولي*.

ډاکتر حقشناس په خپل کتاب «دسایس وجنایات روس در افغانستان»

---

*- د نهایات تفصیل له پاره وګورئ د هغه قانون اساسي اساسي... د صباح الدین کشککي لیکنه له ۸۰ – ۹۵ مخونه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې لیکلي:

روسانو د شفیق د حکومت پر نسبت د خپلې ویرې او غوسې له مخې په ژوره توګه د اوضاع څارنه کوله او په سخته اندېښنه کې لوېدلي وو او د لارې ګودر د پیدا کولو په لټه کې ؤ، ځکه دوی پوهېدل چې له یوه تازه کار، حساس، پوه، هوښیار او ځيرک او با انرژي حریف سره نښلي کولی د دوکې، داراو تهدید له لارې مخکې ولاړ شي ځکه خو روسان پدې لټه کې شول چې هر څنګه وي سیاپي شفیق له منځه یوسي دوی لومړی دا هڅه وکړه چې دربار پدې قانع کړي چې شفیق له مخې لیرې کړي خو ونه توانیدل. روسان ورځ تر ورځې د شفیق له اجرایي قدرت څخه په تشویش او ویره کې لوېدل.

شفیق له ایران او پاکستان سره د روسانو د توطیو او شیطانتونو له مخې دا ډیر خبر پرېتیا ته متوجه ؤ ځکه خو هغه هڅه کوله چې له دغو ګاونډیو اسلامي هېوادو سره د روابطو له منځه دغه سړطاني دانې لیرې کړي.

د هیلمند او بو تړون وروسته شفیق له خبریالانو سره په مرکه د – افغان ملت د جریدې د خبریال د دغې پوښتنې په ځواب کې چې د پښتونستان مسئله به هم پدغه ډول حل کړی شي وویل هو!
موږ نه غواړو افغانستان د پښتونستان قربان کړو.

روسانو د خپلو ټولو امکاناتو په لګولو غوښتل شفیق له منځه یوسي پدې اړه لنډه او اسانه لار چې د روس د کټو تضمین وکړي او د مستقیم تېري او تسلط لار ورته برابره کاندي په لومړي قدم کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د داؤد خان رامنځ ته کول ؤ څود خپل تېري او تسلط د مقدمې په توګه ترې کار واخلي .

په خارجي او داخلي دګروپونو کې د شفيق نوښتونه او جدي کړنې د دې زېري ورکاوه چې افغانستان به په لنډه موده کې په خپل ځان متکي شي او د ښکېلاکګرو لومې به وشلېږي لکه چې په ۱۳۵۲ لمريز کال د ثور په ۲۷ اعلان وشو چې ۱۵۲ صنعتي پروژې د ۴ مليونو افغانيو په لګښت په پښتو دور کې چې د هغې د په کارلوېدو اوګټه اخيستنې سره د هېواد کمني ارتياوې پوره کېدلی شوې د ۱۳۵۲ د جوزا په ۲۳ نېټه اعلان شو، چې ۱۰ بېلابېلې فابريکې د ۲۳۰ مليونو افغانيو په لګښت جوړېږي چې د توليد ، د کارګرانو له پاره د کار د پيدا ېنې، پانګې اېښودنې او د ارتياوو پوره کېدو او داخلي منابعو د په کارلوېدو له مخې يې ځانګړی اقتصادي ارښت درلود. د پوهنې په برخه کې هم ځانګړي پاملرنې ترسره کېده او ليدل کېدل چې د يو لړ علمي پروګرامونو د عملي کېدو له امله به د فرهنګي استعمار د نفوذ مخه او د ځوانانو د افکارو د مسموم کېدو لاره و تړل شي د لوړو زده کړو د وزارت تأسيس او د لوست د زده کړې د پروژو له نوي سره په علمي او عملي بڼه عيار ول په ډېره جدي بڼه او چټکتيا سره پرمخ بيول کېده .

د دغو پټولوجدي او اغيزمنو هڅوجريان چې د هېواد داقتصادي حالت او د وګړو د بدبختي ، فقر ، لوږې او بېکارۍ د عواملو د له منځه وړلو او د بهرنيو طاقتونو د نفوذ د مخنيوي په لاره کې ترسره کېدل د مسکو دويرې او غوسې او ونوره هم ژبغړانده کړاو لدغه ويرې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې نه دغه پسته او توده مري چې کلونه کلونه یې د هغې د تر لاسه کولو له پاره هلې ځلې کړې له لاسه ورکړي. د شفیق د حکومت د نسکورېدو له پاره پر داؤد خان لاس وواهه او خپله مخه یې پر انیستلې پرېښود. او کرملین له خپلې مخې یو ستر خنډ چې هغه دیوه پوه، هوښیار، مدبر او عامل حریف موجودیت له منځه یووړ.»*

مرحوم شفیق د خپل صدارت د لنډې مودې کې وکولی شول چې د اسلام د دښمنه عناصرو د فعالیتونو په وړاندې د یوه کلک بند بنسټ کېږدي او د لا دینیت او فساد پر ضد کې اصلاحي فعالیتونه بسیج کاندي.

ټول موقوته خپرونو ته لار پرانیستل شوه چې د اسلامي مقالو او مضامینو له پاره اختصاصي مخونه ولري د اداري فساد په تېره رشوت پر ضد د شفیق د حکومت هر ارخیزه فعالیتونه او د سلطنتي کورنۍ د ځینو خودسرو عناصرو مقابله د شفیق د جرئت او شهامت ښکارندوی کېدل کېږي.

د کهیځ اسلامي جریده د ۱۳۵۱ لمریز کال د دلوې د لومړۍ نېټې په ګڼه کې لیکي:

«ښاغلی شفیق په خپله مطبوعاتي مرکه څرګنده کړې چې موږ د خلکو هیلې د اسلام د مقدس دین د اساساتو د پیروۍ په اړه درک کړې او هغه دردچې په خلکو کې له مقدساتو سره د بې پروایی او ساتېرۍ له ارخه پیدا کېږي ما خپله حس کړې موږ به خپل ټول توان د دغه ډول سرغړونو د مخنیوي په لار کې په کار واچوو.»

---

* - د نړیات تفصیل له پاره وګورئ د سایس وجنایات روس در افغانستان - ډاکتر حقشناس ۲۲۲ — ۲۳۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کهیځ لیکی « دښاغلی شفیق دغه څرګندونې زموږ په نزد ځکه د تبصرې او پاملرنې وړ دي چې پدې وروستي لسیزه کې د حکومت یوه مشرهم نه یوازې پدغه ډول صراحت د دغه وړ سرغړونو په هکله نظر نه دی څرګند کړی او دهغو د مخنیوی په لارکې یې د مسوولیت احساس نه دی کړی بلکې غالباً هغه څه چې د خلکو په وړاندې له مقدساتو سره بې پروایي او ساتیری ګڼل کیږي دوی بې پروایی او دښمنی نه ده ګڼلې او هغه یې د سیاسی ډلو ترمنځ یو ډول اختلاف ګڼلې همدارنګه هغوی د دغه ډول سرغړونو د مرتکبینو د اصلي څیرې له برېښدولو څخه ځانونه ګوښه کړي او دا جرئت یې نشوکولی چې د هغوی له څیرو پردې لیرې کړي او هغوی لکه څنګه چې دي هغسې ټولنې ته وروښیي او د قانون منګولوته یې وسپاري »

کهیځ په پای کې لیکی »، موږ پداسي حال کې چې د ښاغلی صدراعظم شفیق د دغه احساس او درک هرکلی کوو او یا تروچې زموږ په عقیده ، دیوه صدراعظم ترټولو ستره دنده پداسې شرایطوکې چې افغانستان د تاریخ له نازک پړاو څخه تیریږي داده چې اسلامي ارځښتونو ته پاملرنه وکړي او د اسلام د مقدس دین د ښکړو او لاربښوونو په رڼا کې د ما دي پرمختګ په لارکې ګړندی قدمونه واخلی*

شفیق که طالب ؤکه محصل - که د دولت مامرړؤ او که په پوهنتون کې استاد - سفیر و او که وزیر او صدراعظم د هیواد د پرمختګ او له هیواد څخه د ځبیښا ګرو د لاس په لنډون او د نړیوال استکبار د توطیئو او مانورو څخه د هیواد د ژغورنې او په خپلو ښو دریدنې هیله او احساس یې په زړه کې

* - کهیځ اسلامي جریده د ۱۳۵۱ هش د دلوي د لومړی نیټې ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوځنګونه وهل هغه دهېواد دپرمختګ سخت لېوال وُ چې دده دغه مینې او احساس څرګنده دوی له لیکنو او شعرونو او شپه او ورځ کار او عمرانی پلانونو او موقف له مخې ښه تر الګېدی شي.

خوځنګه چې نرپیخور ښکېلاک د دغه دول هستیو په دښمنی او له منځه وړنه کې په هیڅ دول وحشت او شیطانت دریغه نکوي او دغه دول کسان تر بېتولولو مرې له مخې لیرې کوي. او دخپلو استعماري ناولو اهدافو په لارکې یې سترخنډ بولي ځکه خوبې په دښمنی کې په هیڅ دول جرم او دسیسه صرفه نکوي نو خپلې خبرې د شهید شفیق پدغه وینا پای ته رسوم چې هغه د صدارت په وخت کې د — هلمند داوبو د تړون په هکله د توضیحاتو په لړکې کړې وه:

زه د افغانانو په فطري دراېت بشپړ عقیده لرم او نن یوځل بیا د دغه درایت له مخې حساب او پر هغه تکیه کوم هغه څه چې زموږ په توان او سنجش کې وو هغه مو د هېواد د مصلحت او ګټو د تأمین په غرض تر سره کړل د دغه مصلحت او منفعت ورو ستی تشخیص د افغانستان د شورا په واک کې چې د خلکو د ارادې ښکارندوی ده ځای لري. که زموږ کړنې یې سمې وګڼلې زه او زما ملګري به ښکېرغه وي چې هېواد ته د خدمت مصدر ګرځېدلی دی او که زموږ په کار او سنجش کې تېروتنه وه موږ بیا هم زموږ ښکېرغی ده چې د دولت اساسي قانون پر ښنبسوده چې د یوه حکومت تېروتنه پر ښتنی او او اتلونکی تو کم و تپیلی شي.

لوی او توانا خدای دې چې کړدې چارې او کارونه د هغه په لاس کې دي زموږ ها نداغیز من و کرځوي او د هېواد او خلکو مل او مرستندوی شي*

---

*- وګ: جبهه ملي جریده د ۱۳۵۱ هش د کب د ۲۴ نېټې ګڼه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*　　*　　*

ما توقعات مردم خودرا در قسمت پیروی از اساسات دین مقدس اسلام درک کرده و دردی راکه از نگاه بازي کردن با مقدسات مردم پیدا می شود من هم حس کردم وماسعی خودرا برای جلوگیری از تخطیهای درین قسمت به خرچ خواهیم داد. *

---

وړکۍ ګهیځ جریده د شفیق د مصاحبې یوه برخه.
د ۱۳۵۱ لمریز کال د دلوې دلومړۍ نیټې ګڼه

الحاج ننګیال
د ۱۳٦۷ لمریز کال د وری ۳۰ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د سرخبرې

دا شعرونه هغه وخت ویل شوي چې ما په دارالعلوم کې درس ویلو او د ټولنیزو پېښو ته مې لاره مومله، وروسته د شعرونو ترتیب او د ځینو تغیراتو په اړه زه ځان مکلف نه ګڼم. زما په ګومان دا دواړه مسایل یعنې د شعرونو ترتیب او ټولنیز فشارونه، د هغوی پېژندلو، یو ځانګړی نوعیت لري او زه پر هغو باندې فکر کوم.

داشعرونه هغه وخت ویل شوي چې ما په دارالعلوم کې دیوې – مجهولې آینده ي خواته زړه اونا زړه په وېره وېره خاپوړې کولې. دهغې نه وروسته زما په شروندکې دېر تحولات پېښ شول. دهغې آینده ي دېر برخه «اوس» شوه اوکه زه د دې اوس نه په دې کم وکیف خبر وای ما به دهغې کال نه په هماغه تنګ «تریواوتیه تیاره دارالعلوم کې دوه اودرې کلونه جوړ کړې وای.

دطالبانو په دنیاکې دې خورو ورواندېښنوزما دځوانۍ دماشوم توب په دوره کې دالفاظو جامې اغوستې دي او واقعاً ما ته دغسې ښکاره کېږي لکه یوماشوم چې د تېې تیارې دنیا نه رڼا ته راووځي. د دارالعلوم تیاره هم د موږ دکېدې دتیارې نه کمه نه وه.

خود دارالعلوم د نیا یوه نښه هم لرله چې یوه نادره شان خودي ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګري وه او يوداش ؤچي او مې خښتې يې پخولې. د سرې نه به يې هغسې شکاک جوړولو چې ديکارت به يې په هديره کې په خپله خبره پښېمانه کړ. د دارالعلوم دغې ميړې ته ګله کله زه د هغې او سپنې نظر کوم کومه چې په سندان باندې بې رحمه تکول شوې وې. که په او سپنه کې پوره متره نه وې پوخې پوخې شي اوچې ړشتيانې او سپنه وي هغه وغځېږي، بيانو خو بنه داينګرده چې څه شي ترې جوړوي.

زه چې اوس دا شعرونه لولم د دارالعلوم د دنيا د دې تولو نکونو نښې پکې شته مګر ورو ورو هغه تاثرات او انفعالات هم راټول شويدي ځکه چې زما طبيعت په هغه دوره کې د آئينې غوندې ديوال ځاى نه بې چان او بې غلبله سره را خيستي دي.

کابل راډيو ته چه دا پانې د چاپ د پاره وسپارل شوې زه په مصر کې وم. د هغې ځاى نه ما پرو آشنايانو ته اسرې وکړې چې د چاپ کار ته يې پام وکړي او څينو مخصوصاً زما مشر او محترم دوست صديق الله رشتين چې هغه وخت د پښتو ټولنې رئيس ؤ خوارى هم وکړه.

خوشاله چې زه له امريکې نه راوګرځېدم هر څه ترې تم شوي وو او په زړه شوا خون مې يو څو پانې په مطبعه کې وموندلې چې د ځکوم بد قسمته ماشين کار دغرمې دوه ي يې څلور ګاله په خپل تحرک کې تاوده کړي ساتلې وه.

اوس څينو دوستان مخصوصاً ښاغلى حبيب نوابي بيا بيا راته وائي چې دا پانې دې ضرور سره يو ځاى شي زه د دوى دا خبره منم خو دا بليې نشم منلي چې زه په دې شعرونو کې دن په رښا کې کوتې ووهم. دى يو څو نظمونو زما د ښه وندانه ديوې معينې دورې تاثرات او خاطرې پخپلې غېږې کې امانتي ساتلې او زه د دغه امانت خيانت ته هيڅکله تيار نه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیغام

د ژوندانه دکار او فعالیت د تودو هنگامو په شاو خوا کې د کوشش او هڅا هڅې د جذباتو د تازه گلو او د سرورو ارادو او احساساتو د پخلا گلو د پاره پوازینۍ وسیله شعر او ادب دی.

د وجود او امکان په لامتناهي فضا کې د مینې او محبت، سوز او گداز، درد او جفا او د حسن او جمال دا اندازد تمثیل د پاره د شعر او شاعرۍ تخلیق شوی او د انساني ژوند په مختلفو ادوارو کې شاعر دې وظیفې د روند مکرخوند و ریار په خوراد لچسپې او علاقمندی په خپلو اوبروا خیستی او د ژوندانه د هرې کرشمې او هرناز او انداز نه یې په یوه ډېره ښکلې او زړه وړونکې پیرایه کې ترجماني کړې ده. د عقل او فکر په جولانگاه کې د خیال تروړو پروازونو زما د سینې په نغرۍ کې د یو ویده خوږلن نه یو څو وار خطا بڅرې راوالوزول او د «پیغام» په نامه یې د پښتو ادبي گلشن د پیمخو گلونو بلبلانو ته په مینه وروړاندې کړل.

دا سندرې چې د یو مات زړه د بې سوره رباب د اوم غږ و تارونو په تال - چې هغه د یو سرشار او تپېدونکي ذوق په ټېره شاباز ترنگېدلي - ویلې شوې دي زما غوندې د یو آرزومند او ارمانجن شاعر اسرې، زما او ښکې، د ضمیر آواز او د خیال گلونه دي.

لکه څنگه چې شعر او شاعرۍ د حسن او جمال او د قدرت د رنگین تکوین

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره غاړه غړې ده نو ځکه شعراوادب وچ په وچه یوازې خشکې فلسفې ته خاصول زما په خیال دادب او شاعرې سره یوه لویه ګناه ده. په همدې لحاظ په دې مجموعه کې دعصر، حیات او محیط دالقائی مضامینو یاد ملي او اجتماعي احساساتو نه پرته د شعراوادب د حقیقي دوستانو او د حسن اوجمال د هواخواهانو دخوش طبعۍ د پاره دمیني او محبت یا په بل عبارت دعشقي او تغزلي اشعاروچاشنی هم تیاره شویده.

بنا پردې نو دجمال منکرین، یا هغه کسان چې د خالص تغزل طرفدار دی او شعراوشاعری دژوند دپاره نه وسیله کوي دا دواړه د دې کتابګوټي دمطالعې نه حظ نه شي اخیستی.

په هرحال، زه دا د خپل ناقلاره زړه نا زولي ارمانونه او د سوي سینې تاوده فریادونه ستاسې په مخکې بږدم او په تمه یم چې داګرمي او دیو عالم سوزاوساز د جهان نه راغلي ناري سوري به زما د لالهانده او وارخطا ځلمیتوب دیورنګین سوغات په نامه ومنئ او زما دامید او ارادې په کالبوت کې به د حوصلې ساه واچوئ.

په مینه. م. شفیق

کابل دارالعلوم

حمل - ۱۳۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱)

ماله غيږ د محبت کې ښکلې ځوند را

ژوندکي د جست او خيز لکه سپند را

بوالهوس يې چې لرى په عيش ونوش کې

د عمل سپينو خولو کې هغه خوند را

(۲)

استغناء ديو بېخوده ديـــوانـه را

پاکيزه يوه د مينې کاشانـه را

زخمي زړه مې لا په نوره و يړ نوږنګ کړه

سربازي ديو سرتېرى پروانـه را

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳

سرمنزل د ارمانو نو انقلاب را

دښروندون د مشکلاتو سره تاب را

د مستانو غوندي رندي مي آموخته کړه

سرنوشت مي باب د میني دکتاب را

### ٤

افتخار د محبت په بنګلی تاج را

سمندر نه او ر د میني کي خراج را

په بنګلي او په ماني مي لاري تو کړي

ته غنا د زره اتوم په احتیاج را ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵

زړه کور کې مې د مینې مشال بل کړه

لیوني غونډې سرخوده طبیعت را

د ثریا نه چې تر عرشه پکې ځای شي

د هدف په دایره کې هاو سعت را

PROPERTY OF ACKU

٦

درد و غم د محبت کې خوند سرور را

ډېره ځای دارمانو په کوه طور را

چې د حق د پاره دار په لیمو شکل کړم

هومره جوش د سربازی لکه منصور را

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷

ماله ژوند د طوفانی غوندې جهاز را

خاص یو تا ته مې ملا تېته د نیـاز را

ستا د نهو آسمانو پردې چې وشـــلوم

هومره زور، قوت دمینی د پـر وانز را

۸

دتاثیر نه دک یو تود او ګرم آه را

دزړه کورمې د دردونو منزلګاه را

کره سپور مې غوندې درنه کره مې پورته

هسې نه چې په خفت عروج دګـاه را

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹

مادیت د غرب لاهو کړو تباه کېږو
زموږ روح ته یو غیبي غونډي امداد را

معنوي اساس مو ټینګ په خپل قدرت کړه
د منزل په لوري بیا منډې د باد را

۱۰

آئینه چې د جهان د ننداره وشي
دا یو موټی دردمند زړه مي جام جم را

د توحید لمبې مې سري لره سینه کې
د بوتانو نه خالي د زړه حرم را

(c) ketabton.com: The Digital Library

١١

سرولمبو کې سمندر غوندې آرام را

په خپل لاس مو بز له د خپل فکر زمام را

چې ورېږمه د حرکت او ژوند پلمې وي

د سحر د باد په خوله هغه پیغام را

١٢

زړه د درد د ملغلرو خزینه را

د هدف بام ته د لوړ همت زینه را

ورانه مینه مې په مینه ښایسته کړه

د پاک عشق په سرولمبو سوی سینه را

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۳

په ځیګر د درد او مینې سوی داغ را

سینه ټوله د معنی د ګلو باغ را

دې تیاره سفر کې لار رانه ورکیږي

ته په لاس د محبت ښکلی چراغ را

## ۱۴

یو مواجه طبیعت لکه دریاب را

د یارې غوندې ټوپونه اضطراب را

بېنوا سره باران په ګریوان وکړم

هسې نرم، او به زړه لکه سحاب را

۱۵

ترقع نه خدایه طبع بېګانه را

د زړه کور د پاکې مینې کاشانه را

قناعت او استغنا، مې په نصیب کړه

دانه غواړم د شاهانو سامانه را

۱۶

زولنې دا ندېښنو راته پرتې دي

یو طوفان د پاکې مینې د جنون را

چې سره خوامې پرې باسې په خمود کې

دې نه شپې د درد و غم په میړتون را



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷

دتقلید زولنې ماتې کړه زمونږ نه
دعمل جذبوکې ذوق دابتکار را

فریادونه رسوم بارګاه دعرش ته
آه دزړه ته مې آسمانه لویه لار را

۱۸

دڅرونډو په صف مې شمیر کړه که دانوې
دنیمګړې ډرونډ عوض کې پوره مرګ را

زه به خوله د شکایت نه مهرولاک کړم
ته ګلشن له دڅرونډون مې ساز و برګ را

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹

چې راحت پکې د قوم او جمعیت وي
ماله فخر دا زمېښت په دې کړاو را
چې سکه دې دا فلاس زما په نوم کړ
نو په زړه د محبت کانه جړاو را

۲۰

په سینه کې یو د مینې مست طوفان را
د یقین په رڼا محو تور گمان را
په زړو قصو مې زړه ستړی ستومان شو
نوی عصر، نوی ژوند، نوی جهان را

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۱)

قرباني چي سرنامه دكوم اشروي
مدرسه كي درس دغسي مضمون را
تماشي لره چي شكلي پردي پرېږدي
زولني په پښو د ميني د مجنون را

(۲۲)

په لمبه د عشق پتنګ هومره ګداز را
زره محفل د محبت د سوز و ساز را
كه مي شمېري په تكيه د مفلسانو
په دولت د محبت راله اعزاز را

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲۳**

خمخانه د محبت کې بېباکې را

په يوه جرعه د مېو بېواکي را

چې کړې دې د تکليف کره را په غاره

نو د نور وله قيود و خلاصی را

**۲۴**

ناقلاره رنځ د مينې له دوا را

د وصال په مستانه مېو شفا را

د شين خال غوندې به پښې په تندي ږدم

افتخار د پابوسی لکه حنا را

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۵)

دیارانو سره مینه په اخلاص را

دګوهر وپسې هڅه دغواص را

چې د مینې د خوزند چراغ نه چورلي

طبیعت لکه پتنګ غوندې رقاص را

(۲۶)

چې منې یې نازنیاز هغه دلبر را

نغرې سینه د مینې د شرر را

موجودیت مې حق دپاره ټول فدا کړه

تیروغشو د جفا له سینه سپر را

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۷)

دسحرچوپه چوپیاکې غریب ووې:

مالـه ربه دخپل مرګ اوڅروندو واک را

دادظلم اودستم دنیا دې واخله

ناولتیا د «امتیاز» نه جهان پاک را

(۲۸)

دزاهـد سـره په نفلومیو ویش را

مفکوره دقام دخیرراله همیش را

ښـه مې ورسوه قوم اوجمعیت ته

نه لـرم غوندې کګریه زهرونیش را

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲۹)

دي تورتم له لکه نمر هومره مشال زا

د پروبخکي لاروو پوري وصال را

قافلې نه وررسته کېږو ساعت کم دی

په شیبه کي مونږ له توان د تلود کال را

(۳۰)

فرعونان مو په سر پښې ږدي محوه کېږو

د جګړي تاب و توان پخپل الطاف را

د انسان له وینو غوښو نه غذا خوري

ته نجات له هومره جور و اعتساف را

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ٣١

دملي او دقومي خدمت په لار کي

داغراضو، شخصیاتو احساس تېپ را

دا نرل دمیخانې ساقي دردمند ته

پیالي د درد نه ډکي ښې او چپ را

## ٣٢

د پتنګ غونډي د شمعې نه طواف را

دې تیاره کې ته یو نوی انکشاف را

«امتیاز» په عدل تندردی چې لوېږي

ته ړاد مساوات پخپل الطاف را

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳۳)

په مکتب دعشق او مینې کې سبق را

زړه په وینو باندې سور لکه شفق را

دا بده پورې سوړ شوندون بدل کې

دا شنا په غیږ کې عمر یو رمق را

(۳٤)

دخزان په ویره ګډوبوتو و وې

روح راپود پسرلې کړه نوی ژواک را

دا آزادو ملتو د سیر غوندې

مخ په پورته مونږ له هم خانته چالاک را

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۵

ماویستلي ده توبه د تشـد د نـه
په سره سینه ددي وطن اصلاح را
وژکارنه شودګوندی نه ارتقـا ته
خوار ېښتون له دي خوار یونه فلاح را

۳٦

آبرومند مي که ساتي زما خـاونده
غني زړه اومړه سوله دقـانـع را
دجګړي دشړوندګړمي مي کمه مه کړي
یومشکل چي ورکومه بل مـانـع را

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳۷

حذر به له بېځايه احتياط را

اقتدار مې دخواهش په انضباط را

د ژوندون د جنګ جګړو په شا وخوا کې

يو ساعت هم د پېغو اختلاط را

## ۳۸

ستا دنيا کې بس د مينې عالي اوج را

سبا رد زړه مې دې د خير او درد په فوج را

ابا سيند د زمانې يم لا هو کړې

د مستې او شور نه ډک ژوندون د موج را

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۹

انزواء او رهبانیت نه مې وساته
دعمل په ښرخ مې تاو دښروند ارت را
چې صحنه داجتماع واړه توده کړي
هسې کرموجذبوله سینه بټ را

٤٠

چې لري يې بلبلان دګل په سازکې
پروانه غوندې په سوزکې ها سرور را
چې وزګار شم پيروی دخپل مسلک ته
خوارې خپټې له په مثل د مزدور را

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٤١)

نورمې هر څه درته پرېښوده خاونده

آزادي او درد او مينه دجمال را

داشنا په غېږ کې پروت يمه لوبېږم

حقيقت تعبير دغه خوب او خيال را

(٤٢)

ماله زړه زخمي زخمي په درد دوا را

آزادي او حريت په دې دنيا را

چې دقام په درد مې وخوړې هغه خوښ کړم

هسې شاني ښکلي ذوق دتمنا را

(c) ketabton.com: The Digital Library

٤٣

په تولی دریاکارومې که شمیرې
دغې دیراوبتخانې پورې الحاق را

جنت څه کړم ستا رضامې نصب العین دی
دوفا توفیق په عهد د میثاق را

٤٤

سینه پاکه له وهمونو، له وسواس را
ښه، محیط کې مې آوازله انعکاس را

چې خدمت یې قوت وکړي قام، تبر ته
هغه مټ، هغه بازواو هغه لاس را

## ٤٥

سمه لارلویه په لوري د مرا د را

داویده پښتون چې ویښ کړي ها فریادرا

چې مې عزم ته دغره ویستل هیڅ نه وي

دکوشش جذبې مې ویښې د فرها درا

## ٤٦

په لاس مونږ له دقومي ترقي جــړ را

د بشــر دخا ئنانو چراغ مـــــړ را

څوک چې غواړي : آزادي امن دې نه وي

د هغوی زوال نصیب ، رنګونه خــړ را



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٤٧**

یوسرشاره طبیعت لکه مینوش را

حق دپاره مال وسردورکړی جوش را

داحساس لمبې مې سرې لره سینه کې

لمبېدلی یم د درد کې عقل وهوش را

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پسرلي ته

نغوي چي خپل آهنګ ته کائنات

دفطرت د ښکلي ساز هغه نغمه يي

فرياد دي چي ماحول راوينښ ېږي

د ژوند سينه کي ها د شور اوزوږ زخمه يي

## دلعل بڅري

ستا په مخ سپيني خولي چي وي راماتي

ښکاريدي لکه دلعل د بڅرو

ما پري شونډي چي راټولي کړي شوه ډکه

لکه ستا غونډي مي خوله د ملغلرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان ته

کاشکې مړوی چې مې هیڅ نه وی لیدلی

دا دستا په مرګ حساب ژوندون افغانه

نه شرمیږي تول قومونه سره یو شول

ته شکیدلی تنی پروت یې پریشانه

# اخطار

که دا یو چې هم په دې شاني اوسیږو

نو په مړو او معدومو به شمیږو

راځئ هلئ چې لاسونه سره ورکړو

ګوري دا سیلاب (؟) چې راغی لاهو کیږو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاته

مړاوي سترګې چې راواړوي خماري
جوړوي مې په جهان دزړه کې لاري
په اعجاز دې لمبولی دا کاته دی
چې په شته مې زلزلې کړې رادوخاري

# ماشوم توب

هم هغې نشاط پسې مې سترګې اوړې
چې مې ژدزړه سره په ګهـــواره کې
تبسم مې روح نواز په شونډو بنکلو
هرسبق مې ژدميني سيپاره کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوندون

حقیقت دی افسانه ده که رومان دی

که کوم ساز دی چې نری نری غگیږي

بازیچه ده چې پرې لوبې ماشومان کړي

یوه دمه ده چې رنگ په رنگ گډیږي

# احساسات

بله لاره را نه ورکه ده زندان کې

ستا په یاد سترگې داوښکو، وینو ډنډ کړم

زړه مې وائي چې دا تورې پردې وشلوم

په طغیان د احساساتو ځان درلنډ کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنګلا

دڅړوندون د سترګې توب سره په خوا کې
یو مرکز د قلارۍ او د لاســا شـــته

د عمل جذبې که غړندې په کارشې
تازه ګي او طراوت لـره بنـګلا شـته

# هموطنانو ته

پاکي کړي لارې د خپل قوم خادمانو لره
د وفا لاس ورکړي د صدق خاوندانو لـره

د نوي عصر نیرنګونو بل افسون راوړي
سترګې په برید پرانیستي بنـایي افغانانو لره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وطنخواه ته

دملکرتوب لاره پیدا کره ددوستانو سره
په یو مسلك باندي راغونډ شه اشنایانو سره
اشنائی دملکرتوب مفهوم یو نه دی ځکه
ددوی په منځ کي تفاوت شته هوښیارانو سره

# دسترګو لوبي

د سپوږمۍ د سپینو وړانګو په دولي کي
غلي غلي د پردي لاندي موسکیږي
په غلا غلا کاته کوي وارخطا ګوري
دا دچا سره په سترګو کي لوبیږي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه آرزو

هغو ترو کې له بدو سترګو لرې
دوا ړه نا ست وی دیو شړند خو رپه غاړه
لو په بل کې محویت هومره بېخود کړی
رانه هېر شوی دا مادی کائنات واره

# خدای ته

څومره پاک او سپین کتاب دې راليږلی
سعادت دې دانسان په کې لیکلی
خوارمان دی دتاویل، تقلید آفاتو
رانه ورک کړو په حاشیو کې غلی غلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دحق دښمن

علمبرد «امتیاز» دښمن دحـق دی
داچې کرځي اورمېږ جګ او شمله شخه

یم لوی شوی خېل خانه دا بـراهیم کې
لا به خوا په دې نمرود باندې کړم یخـه

## ښکلي یار ته

کائنات دې په رڼا دمخ رڼا دی
ستا په غېږ کې جوړ دې د نیا ارم دی

تبسم دی زلزله د تن په ښــارده
ستا په موسکو موسکو شوېږوی قسم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مينه

دحيات په خوب اوده وم بوګنيدمه
دامید رڼا مي وليده رڼويا کښي
قلاري مي په زړه راغله دلاسا شوم
څومره خونددی په آرزو او تمناکښي

# امید

دا بې غاري سينډچي کوري مينه داده
په طوفان يي دحيات کشتۍ لاهو ده
دلته لوبي په سر، تاج اونګ ونام شي
عاشقي په شاهي نه کيږي محموده

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خلوت

چې حریم دې د اغیارو نه خالي کړو
کله ما هم د نسیم په څېر لړه در بله
ستا په شونډو مې ږغ وخوله د شپې په غېږ کې
او د یوه د محبت وي راته بله

# د حیا خولې

د اشبنم د ګل په پاڼو کې ځلېږي
که په مخ دې د حیا خولې راماتې
چې په بدو بدو سترګو ورته ګوري
رب دې کړي د بوالهوس د مرګه پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دمحبت کرمي

ددنیا ګلزار به وچه سره میره وه
که موسکې پکې پیمخی خوبان نه وی

په ښروندون به دجمود سره تیاره وی
که کرمي د محبت په جهان نه وی

## آزادي

یوه ښکلې شان لیلی د سعادت ده
چې پلوېي په مغرب کې نیمکخو دی

یوی دزلفو يي نسیم دلته راوړی
بس علاج زموږ د وارو تلوسو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بېخودي

د پسرلي په دې رنګینو هنګامو کې
د ټنګو ټنګو ګلونو په وږمو کې

دا د چا غېږې ته ورغلم چې ځان مې
رانه ورک شو دیو مست حسن جلوو کې

# تمنا

داسمان انګړکې شي چې د یوې بلې
ما دې خواته په خندا خندا دربلې

زه دستا او ته د شپې غېږ کې او ده یې
زما هر خواهش ته وایې : بلې بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## رسول ته

درنه زارشم سرړاپورته کړه یوځلي
په اشناجامو کې ورک یې ستا پیغام کړو

په اسانه په کې ساویستل محال دی
هومره تنګ یې ستا هغه پراخ نظام کړو

## غلیم ته

دبستان کې دا یشیا چې زه استا د وم
تا لوستله هغه وخت کې سیپاره

مخ دې تورشه اوس زما د سر دعوه کړې
ته او خدای نو په همدغه قواره!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# التجاء

که داغواړې چې هرڅه نه بې پروا شم

ما دمینې محبت په لاړ ولوند کړه

که به نه ګورم پرې حق او حقیقت ته

ما په هسې بې نظرو سترګو ړوند کړه

# انتخاب

په شنو ترو د سپین غره کې چې آبشار دی

دغې په غاړه وی له ما شوم توبه

لیونی روح مې یوازې وې هرڅه نه

بې له مینې، ازادی او نېکلیتوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په خوب کي

د سروګلو دیو تل په منځ کي دواړه
غېږ په غېږ وو خوله په خوله غاړه په غاړه

ونسیم دي ثنا خوان په ګونګه ژبه
او سپوږمۍ وه په تعظیم غاړه په غاړه

## په خیال کي

د سپوږمۍ ډېلو شو د سوري لاندي
په مکیز مکیز موسکی شي راسره خاندي

تسلي دي په خاموشو کتو را کړه
دواړه شونډي دي په مینه کړي راوړاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتون ته

دهاتي غوږ کې اوده يې بې انصافه
خلک کړځي د اسمان په کناروکې
ته لا وايې الف بې د تربګنيو
د نفاق او جهالت په سيپاروکې

# شکوه

دې دنيا کې چې هرڅه زمونږ ه نه دی
واک دبل ژبه دبل او کار دبل دی
مال زمونږه ملک زمونږ خواري مونږ کړو
عيش دبل عشرت دبل اختيار دبل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوښتنه

دا سپوږمۍ په سپينو وريځو کې ښکارېږي
چې رنګې رنګې په مخ يې راخوره ده
که سپين مخ دې ديو سپين نقاب نه لاندې
د سپوږمۍ او د نمر پورې مسخره ده؟!

# تو ده غير

د دنيا له کيږ وداره وم ستومانه
زه بېخبره وېرېږم چا له دې جهانه؟
دا تو ده غيره د چا وه چا په مېنه
دا پاسته لا سونه کړه چا پېر زمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماشومتوب

څه وړې وړې چپې د لیونتوب دی
چې شباب کې یو طوفان ورنه جوړېږي

یو صورت دیوې شوره بیخودی دی
سرشارې او بیغمی کې چې موسکیږي

# شباب

لیونۍ غونډې یو خوب دی بې تعبیره
اضطراب دی او که تندر په سکون دی

په مستۍ پکې غورځنګ کړي په موجونو
آ طوفان د بیخودی او د جنون دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بینایي

راسره وي سترګي دواړه پرده پوشي
چي يي نه ليده که هر څومره به وا شوي

داچي اوس په پټوسترګوهم ليدل کړي
ستا په مينه کي قسم دی چي بينا شوي

# فریاد

داتومبي مي چي اغزي د زړه په سترګو
کوم بي رحمه کوم ظالم اوکوم صياد دی

چي آسمان په ظالمانو نه رالويږي
معلوميږي بي تاثيره مي فرياد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ضمير اواز

مخ د تورو وربځو نه راووزمه بربښنا یمه
خاندمه ، ځلېږمه ، بې خرې سپین سبا یمه
زه د تحیر د زړه تیاري لره رڼا یمه
اوسم په سینه کې د زړه غوږ سره اشنا یمه
راځم په جذبوشې طبیعت نو زه پیدا یمه
عمق د فطرت د زړه نه دې د نیا ته راشمه
پروت یم په سینه کې د امید او د ارمان په شان
زه تور ته د صدق یم ، بې ریا یم د وجدان په شان
پاک چې وي د وربځو نه د عرش نشین آسمان په شان
برق یم د یقین غورځنګ او نه یم د ګمان په شان
غږ په ګرا هانو کوم هاتفي آواز غورځنګ
لاو لرم د غیب سره موجود یم د یو راز غورځنګ
پاک ته که سینه صیقل شوی آئینه یمه
سیند د صراحت کې لاهو شوی سفینه یمه
بام د مراد ونو ته په لنډه لار نه ینه یمه
تږ و لا روو ته د چولی د منځ چینه یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلم الهامونه له قدسيانو له ملکه ځنې
چورلم د پتنګ غوندې د شمعې د محلک ځنې
زه د زړه پردوکې د احساس غوندې لو بېږمه
تاته ستر ګوره اوره کې غوندې ځلېږمه
زړه چې روند او کوڼ شي نو بيا هيڅ نه معلومېږمه
څه تدبير خونيم چې تېز وزم خطا کېږمه

ځانله چې وجدان شي قيمتي دی مصلحت زما
نه کوري ظاهره قوانين د شريعت زما

وران يم ارتجاع سره ، د غدر نه نفرت کوم
پاکه مې القاء ده د بشمني د خيا نت کوم
پاکي يې ساتم د آرزوګانو حفاظت کوم
زه ناري انسان ته د وحدت د امنيت کوم

نه منمه ظلم ، رحم ! رحم دی آواز زما
لاره زړه پرهوکې کړي آهنګ د بشکلي ساز زما

غواړمه انسان نه چې د درد وغم اشنا دې وي
زه غلامي نه منم آزاده دا دنيا دې وي
بدې مې تياره شي رڼايي د سپين سبا دې وي
محو دې رجعت شي که څه وي نو ارتقا دې وي

هره کالبود د ژوند له نوی ساه د حرکت غواړم
تېره فسانو نه يم د نوي ژوند نهضت غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند د شرف غوارم د ښېګڼو طرفدار یمه
خوب نه یم عادت نه دی د شپې ورځې بیدار یمه
نه یم په تقلید کې هوا خواه د ابتکار یمه
ایکي د وجدان سره روان په یوه لار یمه

سوزم خوشحال یم مه پرېږده د سیند پېشان
نور و پېته نشته خو احساس مې وي د خوند په شان

باد د حوادثو نه د ژوند بېړۍ پنا بیایم
تا ته د نن درس کې نوی فکر د سبا ښایم
تا د حال په ژبه، تحوله، په رښتیا ستایم
زه د شلم عصر د انسان په نامه دا وایم

تېرشه دا توم نه خورن جهان د امنیت کره ساز
بېرته کره د زره غوږونه، واوره د ضمیر آواز».

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه معنی؟

دومره فریب په سپین ښادر د قلندر څه معنی
په نوي عصر کې د دې زاره دفتر څه معنی

که مفکوره د خیر خواهي وي په مغزو کې د چا
نو امتیاز د سپین او تور د لر او بر څه معنی

د زړه انګر چې کړي جلوې د پاکې مینې رڼا
داسې دنیا کې تظاهر د نمر قمر څه معنی

کوم استعداد چې تا پخپله خاورو لاندې کړی لو
بیا د هغې پسې د ځان ځنې سفر څه معنی

خدای چې بینا سترګې در کړیدی او دید شته پکې
بیا غور ځېدل نو له ګړنګه له کمر څه معنی

په لوخړ پو خود آشنا سره د شپې په غېږ کې
چې زه مور نه یم سپینې سترګې د سحر څه معنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژیړ ګل!

«ته چې هسې ښایسته یې ژیړه ګله
ځکه تا په ځان شیدا کړله بلبله» (۱)

ستا د بوی نښې په باغ پیږه داري کړي
دلته نه راځي خودي له دي کبله

کومه غوټه دي دمیني ورایله کړه
سرګوښي دي چې بلبل سره کوله؟

دادي رنګ دکوم مین د مخ اخیستی
چې دژوندپانه دي دومره ژیړه شوله؟

دلبري کړي دبېدلو په جامه کې
دا دې څه پرده په مخ وغوړوله

اورېده مې چې تاوې په ګونګه ژبه:
سترګې وو بنځه لیلی له تغافله

ګوره تېروېستي ظاهر دسرو ګلونو
خساره دي سراسر وکړه ګاګله

شاوخوا درنه چاپیره ګلان سره دي
ته یې ژیړ د مسافر وغوندي څله؟

نه پوهېږم چې د دې باغیچې ګل یې
که زما غوندې راغلی له کابله

حدیقة الاندلس-قاهره
داپریل ٤ - ۱۳۵۳

(۱) خوشال بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژوند سبق

څه په سر د ژوندون او په امان د تحول ځي
کله تربکني چي د فلک ورسره نه وي

ځان دې بحهز کړي په قوت باندې که ژوند غواړي
نه دي ځي مور چي له چي توپک ورسره نه وي

دلته دې زمونږ په خانانو ملکا نوکـــــــي
داسي سري کوم دی چي کوتک ورسره نه وي

خلاص به بېګناه بندي د فکر کړي زمونږ ملا
خو که زولني د وهم وشک ورســــره نه وي

لاړه به خطا تيارو کو څرکي فلسفي نه شي
کله چي ملګري ايمان کلک ورســــره نه وي

زه به د ساقي پيالي ته هيڅکله نژدې نه شم
ستا د خوږ و شوندو جام چي ډک ورسره نه وي

پاتي به بېخونده دياري منډې رامنډې شي
ستا نه کله کله چي سترګک ورسره نه وي

اوږه ژوندون پوري کوم چي نه وي آزادي پکي
ورکه شاعري کړه چي مسلک ورسره نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رنګین سحر

د قدرت نه آواز راغی — اوړخ بدل شو د ژوندون
بیا د دهر سرنامه شوه — یو رنګین غوندې مضمون
د فطرت د تندې کړبنې — کړې تفسیر دیو جنون
د ګلشن خرام ته شوق کړي — د زړه طفل ته لمسون
د غوټۍ په غوږ کې ووې — بیا نغمې د صبا وون :
سترګې پرانیزه بهار شو — یو منوم مرګ دی د سکون
پسرلی په پېرکې را وړو — ګردشو نو د ګردون
بیا بلبل او ګل پېښې کړې — د لیلی او د مجنون
د شاعر طبعې کړو پورته — سر د فکر له زړګون
حسن او مینې ته پرې ایښی — ځای د عقل افلاطون

د قدرت ګوتو سکوند لې، په مستۍ کې طبیعت دی
د جذباتو محشر جوړ دی، د رنګونو قیامت دی

د ګلشن په زرغونو کې — ګل په لاس پیاله نیولې
د نکهت له میوو ډک — د مستۍ په بوی لړلې
وار خطا غوټۍ غوړېږي — لکه خوب کې بوکنېدلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د ښکلو زلفې څښتې ... په ګلو بنو دکې شولې
نرګس تیټې سترګې ناست و ... چې بوسې یې وړ کولې
دا چې پېغلې غوټې خاندي ... خوشبا دې تښتولې
د شبنم قطرې نسیم ته ... لکه طفل نازولې
د غوټې په ګهواره کې ... په ناز ناز یې زنګولې
د جمال د جوپې شوخو ... په احساس لوبې کولې
قافلې د رنګ او بوی وې ... چې تالا و الا کېدلې

د سینې د سینه په غېږ کې، اوږ بدل کړو ارمانونو
د احساس کشتي لاهو شوه، د مستۍ په طوفانونو

د امید ما شوم ځلمی شو ... تمه یې وشوله د ځانه
مشاطه د جمال راغله ... ناوې جوړه شوه د نیا نه
پیغامونه د ریدي وو ... پیالې وغواړې زمانه
بیا د هوش متاع ورکېږي ... د عقلونو له دوکانه
معشوقې د سرو ګلونو ... سجدې غواړي د بورانه
ښا پېرو د حسن جوړ کړو ... یو ارم له دې جهانه
د ونو مو د وزې خېږي ... د باغونو د فضا نه
غواړي زلفو له ګلونه ... مستي پېغلې له باغوا نه
د افق نه سحر ووې ... مبارک دې شه انسانه

د نسیم د ساز پر دو کې، کائنات چې نغمه بار شو
د بلبلو ترانو کې، پیغامونه د بهار شو

مرور چې وو تراوسه ... پخلا کېږي ارمانونه

د شبنم په ړنړاو بنګو | ګلو وینځل مخونه
راته ښکاري چې سيالي کړي | اننګو سره ګلونه
خوشالۍ شوې سره يو ځلي | پراري شولو غمونه
بيا سواره کړه مطربانو | ګلشنونو کې سازونه
پيغلې پيغلې ګلرخانې | ورته اچوي لاسونه
سوز و ساز يې سره ګډ کړو | پسرلي کړې څه کارونه
د ګلشن حرم کې بل دی | د سرو ګلو چراغونه
د ګلزار په لوري درومي | ګلالۍ ملالۍ نجونه
بې منته شو ځلموته | د پیمخو د ید ستونه

عکس يې اخيستو د ګلو، رنګين شوی مې نظر وُ
رنګا رنګې رنګينۍ وې، يو عجيب «رنګين سحر» وُ



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دځلموترانه

لکه نسیم دباغ ګلونو ته پیغام دی زمونږ
هدف دکار اود خدمت وطن اوقام دی زمونږ

مونږه افغان ته یو قوي ملي وحدت جوړوو
دتفرقې دامتیاز په کور قیامت جوړوو
وراني ویجاړې دوطن پخپل همت جوړوو
عدل انصاف اومساوات روح دنظام دی زمونږ
لکه نسیم دباغ ګلونو ته پیغام دی زمونږ

مونږه په دین په ملیت باندې خپل سر ورکوو
دجفا غشو له سنګر غوندې تټر ورکوو
واړه افغان ته دنهضت نوی خبر ورکوو
عقیده پاکه پاک ایمان په پاک اسلام دی زمونږ
لکه نسیم دباغ ګلونو ته پیغام دی زمونږ

مونږه تعمیم دمعارف پخپل وطن کې غواړو
نوی آهنګ دنوی ژوند پخپل چمن کې غواړو
دشمن دحق اوحریت سر په کفن کې غواړو
خدمت دقام ته چې ولاړوي پرې سلام دی زمونږ
لکه نسیم دباغ ګلونو ته پیغام دی زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطن نه بدبد رواجونه رسومات ورکوو
زړځونه ولېږي، بې علمي او خرافات ورکوو
دکار د منځ منځ نه بېځایه سکنات ورکوو
بنا پر حسن اعتماد باندې مرام دی زموږ
لکه نسیم دباغ گلونوته پیغام دی زموږ

ظلم، رشوت، تملق دروغ او خیانت نه منو
غواړو په زړه کې درد او رحم، قساوت نه منو
سره همدرد یو بې دردي په رسمیت نه منو
ملا عالم مخلص خادم ته احترام دی زموږ
لکه نسیم دباغ گلونوته پیغام دی زموږ

موږ په ایشیا کې یو مسعود افغانستان غواړو
موږ حکومت او حاکمیت دپاک قرآن غواړو
اباد په صلح وامنیت باندې جهان غواړو
تینګ د سنجش فکروتدبیر په لاس زمام کړی موږ
لکه نسیم دباغ گلونوته پیغام دی زموږ

ملي مفاد په شخصیاتو مقدم دی موږ ته
حکم ددین ـ عالم او مشر محترم دی موږ ته
دفع د ظلم په بل ظلم هم ستم دی موږ ته
د قوم خادم چې وي هغه خلمی امام دی زموږ
لکه نسیم دباغ گلونوته پیغام دی زموږ

ـــــــــ

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY ACKU

# فرهنګ جهاد

«فرهنګ جهاد» د افغانستان د ژغورنده، آزادي بخښونکي بر میال اسلامي فرهنګ د فکري او عقیدتي اصیلو کرښو په پام کې نیولو سره د کردو مجاهدو لیکوالو، محققینو او شاعرانو د جهادي آثارو خپرولو ته چمتو دی. په تیره د هغو لیکوالو آثارو ته چې په بهرنیو لیرو هیوادونو کې د مهاجرت ژوند تیروي او له ډیرې هلته د خپراوي چارې ستونزمنې او له مالي ارخه د زیات لګښت غوښتونکي دي.

ځرنګه چې زموږ ستر اسلامي غورځنګ له حساس او نازک دور څخه تیریږي «فرهنګ جهاد» په نظر کې لري چې د درنو لیکوالو او ادب پوهانو د مرستې او لارښوونې له لارې په نژدې راتلونکي کې یوه موقوته ادبي خپرونه هم نشر کاندي.

فرهنګ جهاد د هر متعهد مجاهد لیکوال د آثارو د خپراوي په اړه د دوی د فرمایش مطابق د هغوی په خدمت کې دی او بیله مالي لګښت څخه د خپراوي ټول تکالیف په خپله غاړه اخلي، ځکه چې فرهنګ جهاد له مالي تنګسې سره مخ او له هیڅ لورې مرسته نه ده ورسره شوې ځکه خو به درانه لیکوال یوازې د چاپ لګښت نیم ادا کوي.

فرهنګ جهاد د هیواد د زړو ارځښتناکو آثارو او اسنادو ساتنه او تکثیر هم په نظر کې لري او هر هغه اثر چې زموږ له جهادي پالیسۍ سره ارخ لګوي او ضرورت یې محسوسیږي تکثیروي.

هیله ده د تکثیر لو یا خپریدنګ له پاره د دغه ډول ارځښتناکه آثارو په استیاز سره قدر من هیوادوال او فرهنګیالان له فرهنګ جهاد سره مرسته وکړي.

له کردو متعهدو ورونو، لیکوالو او پوهانو څخه هیله کوو چې پخپلو معنوي او مالي مرستو او لوریینو سره د فرهنګ جهاد د پرمختیا او پیاوړتیا لار آواره او د جهادي ادب د بډاینې او ساتنې په لار کې خپل مسؤولیت او رسالت تر سره کاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فرهنګ جهاد د دغو آثارو د خپراوی تکل کړی:

۱ـ دخوځښت د مؤسس لوی استاد پوهاند غلام محمد نیازي دخپروشویو مقالو مجموعه
۲ـ وینه په قلم کي ـ دمجاهدولیکوالواو ویناوالوتذکره.
۳ـ جهادي فتواګاني
۴ـ اسناد تاریخی افغانستان
۵ـ پیغام ـ دمحمد موسی شفیق د شعرونو د مناجاتونو برخه
۶ـ مجموعه مقالات مرحوم محمدکاظم شارقی
۷ـ افغان باقی کهسار باقی ـ دجهاد په اړه دپاکستان دارد وژبو انصاروویناوالو د ـ شعرونو مجموعه
۸ـ دعبدالهادي هدایت دمقالو مجموعه
۹ـ معرفی جراید ومجلات جهاد افغانستان
۱۰ـ دکهیخ داسلامي جریدې ددووکلونو کلکسیونونه
۱۱ـ به یاد سخنورصخره آفرین سترګ استاد خلیلی
۱۲ـ تعصب او دهغه اغیزه
۱۳ـ داستانونه اولسونه ـ دجهاد په اړه دبهرنیو لیکوالو یادداشتونه
۱۴ـ مجموعه مقالات الحاج مولوی عبدالرب احدی وردګ
۱۵ـ منزلونه او منزلونه ـ داشعارو مجموعه
۱۶ـ دوینو نخښې ـ دجهادی خاطرو مجموعه
۱۷ـ کارتون ها سخن میګویند دمقاومت په اړه دخپروشویو کارتونونو البوم
۱۸ـ تاریخچه نهضت اسلامي افغانستان ـ
دوشعرشیدا

**داده یوڅو درانه هیوادوال به له فرهنګ جهاد څخه خپلې مرستې نه سپموي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARIS
B
1.231
SHA
2721

دژوندون میره او بزده ده ستړې کیږي
ګوټ دشونډو د شربت درسره واخله
دوصال ډیوه به مړه وي مونږ به نه یو
دا یه یاد د محبت درسره واخله

شفیق

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**